# مسيح الافاغنه

ځلان مومند

دَ تېرې شوې صدۍ په وړومبو وختونو کښې ټېګور او کپلنګ په خپلو ليکونو کښې دَ پښتنو دَ کردار دَ ذکر کولو په وخت دَ دوي کردارونه په جذباتي توګه اساني سره په اشتعال کښې راتلونکي او دَ جوش نه دَ ډکو انسانانو په شکل کښې پېش کړي دي. (۱)

زمونږ دَ پښتنو حساس او دَ جوش نه دَ ډک فطرت دَ نفي ګنې حوالې په ډېرو کتابونو کښې په لاس راځي. دَ مثال په طور دَ باچا خان دَ عدم تشدد په بنياد ولاړ جدوجهد باره کښې مشهور کتاب Thrown to the Wolves مصنف پيارے لال په خپل کتاب کښې دَ فيلډنګ کنګ هال دَ کتاب Thirty Days of India نه دا لاندينے اقتباس نقل کړے دے:

One Pathan was sitting on the ground listening intently to a radio broadcasting programme while his neighbour continued to chatter. The first man told the talker to shut up, but the later observed that he had as much right to speak as that 'loud mouth over there'. The radio fan promptly switched off the human loud speaker by sticking a knife into his ribs. (2)

يعني يو پښتون ډېر په غور ريډيو اورېدو او دَ هغهٔ يو ګاونډي په اوچت اواز خبرې کولې نو دهٔ خپل ګاونډي ته ووې چې غلے شه، خو هغهٔ جواب ورکړو چې هغه هم دَ ريډيو هومره دَ خبرې کولو حق لري. نو ريډيو اورېدونکي هغه په چاقو ووهلو او غلے ئې کړو.

بيا هم دَ پښتنو دَ فطرت او دَ هغوي دَ عادتونو ډېر دلچسپ تفصيلات مونږ ته په هغې خفيه رپورټونو او سرکاري خط و کتابت کښې په لاس راځي کوم چې دَ برطانيې په انډيا آفس لائبرېرۍ کښې محفوظ دي. دَ هغې څهٔ نمونې مونږ دَ خان عبدالولي خان په کتاب «باچا خان او خدائي خدمتګاري» کښې ليدلې شو. په دغې کتاب کښې نقل شوې يوه کرښه خو ډېره زياته خوندوره او موجوده حالاتو سره تړلې ده. دا خبره دَ هغې خط نه اخستې شوې ده، کوم چې په لسم نومبر کال نولس سوه دېرشم کښې وائسرائے لارډ ارون دَ هغه وخت دَ برطانيې وزير هند ته ليکلے ؤ.




"This corner of the earth is as troublesome as it is tiny and occupies a share of my attention and no doubt yours also out of all proportions to it's size" (3).

په دې خط کښې وائسرائے دَ هند وزیر ته وائي چې دَ زمکې دا ټوټه دَ خپلې رقبې دَ اختصار باوجود ډېره مصیبت خېزه ده او دَ دې مختصرې رقبې په مقابله کښې ئې زمونږ توجه دې ډېره زیاته حاصله کړې ده.

کله چې دا خط لیکلے شوے ؤ نو هغه وخت باچا خان دَ عدم تشدد فلسفه اختیار کړې وه او لس کاله ئې شوي وو او دَ خپل قوم دَ اصلاح دپاره چې هغوي دَ کوم تحریک شروع کړې وه دَ هغې شل کاله پوره شوي وو. دَ نن نه تقریباً یویشت کاله پس به دَ دې خط دَ لیکلو یوه صدي پوره شي خو دَ زمکې دا ټوټه دَ خپلې رقبې دَ اختصار باوجود نن هم دَ بهرنۍ دنیا دپاره مصیبت پېدا کونکې ده او دَ عالمي توجه لوئے مرکز دے. فرق صرف دومره دے چې دَ تېرې شوې صدۍ په وړومبنو کلونو کښې دَ نوآبادیاتي حکمرانانو دپاره



زمونږ دَ عدم تشدد فلسفه دَ پرېشانۍ سبب وه چې باچا خان ئې صرف حامي نهٔ ؤ بلکې خپلو پېروکارو ته ئې هم دَ هغې تبلیغ کولو او په خپله ئې هم پرې پوره پوره عمل کړے ؤ. ولې نن سبا مونږ په یو داسې وخت کښې ژوند کوو چې تشدد په مونږ راتپلے شوے دے.

د عدم تشدد، امن پسندۍ، اهنسا او دا اوسنو عدم مقاتلو دَ نظریاتو حمایت کونکي او دفاع کونکي همېشه زیات وي خو په دې نظریاتو په سختۍ سره عمل کونکي همېشه کم پاتې شوي دي. دَ پښتنو دا خوش قسمتي ده چې دَ عدم تشدد دَ فلسفې دَ ټولو نه لوئے مبلغ عظیم انسان په دې خاوره پېدا شوے ؤ. دَ باچا خان تعلق دَ یوې شتمنې کورنۍ سره ؤ خو دَ هغوي زړهٔ دَ عوامو او دَ محرومو طبقو دَ احساس نه برجق ؤ. له دغې وجې نه هغوي خپل ځان هم په دغو خلقو کښې شمارلے ؤ. هغوي ځان دَ ستېج یا منبر پورې محدود کړے نهٔ ؤ دَ چرته نه چې هغوي دَ دغو مقصدونو زباني خدمت کولے شو دَ کوم دپاره چې هغوي خپل قوم وېښول خپل فرض ګڼلې وو. هغوي همېشه خلقو له نزدې ورغلے او ورته ئې خپله خبره عملاً رسولې وه. په دې لړ کښې یوه واقعه چې خان عبدالولي خان په خپل کتاب «باچا خان او خدائي خدمتګاري» کښې بیان کړې ده دَ ذکر قابله ده. ولي خان لیکي چې ماته دَ خپل سیاسي سفر په شروع کښې دَ زړو ملګرو سره دَ کرک دَ دورې ذمه واري را په غاړه شوه. موسم ډېر ګرم ؤ او دا دوره پیاده وه. کومې علاقې چې دَ دورې دپاره ټاکلې شوې وې هغه شګلوړې او کاڼیزې وې او روژه هم وه. یعني مونږ به بغېر دَ خوراک څښاک نه دَ سحر ته تر ماښامه په تودو شګو کښې مزلې کولې. ولي خان لیکلي دي چې دَ سفر په دوېمه ورځ زما پښې پولۍ

شوې او دَ ځپلو په پښو کولو جوګه پاتې نهٔ شوم نو په دغو تودو شګو کښې به پښې بیله ګرځېدم. یوه ورځ دَ ډېر اوږد مزل نه پس چې کله مونږ یو کلي ته ورسېدو او هلته په یو جومات کښې ایسار شو نو په هغه جومات کښې دَ یوې ونې لاندې یو کټ پروت ؤ". ولي خان ډېر زیات ستړے ؤ نو سمدستي هلته څملاستو. نو دَ دوي خدائي خدمتګارو چې دَ هغهٔ دا حالت ولیدو نو ورته ئې ووې چې مونږ ته یاد دي چې یو ځل هم په داسې موسم کښې په داسې حالت کښې مونږ باچا خان سره هم دې کلي او دې جومات ته راغلي وو خو چې دلته باچا خان ته څنګه په مخامخ غر کښې لوګے په نظر راغے نو دَ جومات دَ امام نه ئې پوښتنه وکړه چې په دې غر کلے شته؟ دَ جومات امام جواب ورکړو چې نه صرف یو کور دے او صرف یو تن پکښې اوسي. باچا خان سمدستي دَ هغهٔ دَ ملاقات دپاره تیار شو. دَ جومات امام هغوي ته ډېر ووې چې هغه به دَ جمعې دَ نمانځهٔ دپاره راځي زهٔ به ورله ستاسو پېغام ورسوم خو باچا خان وئیل چې نهٔ زهٔ به په خپله هغهٔ سره ملاقات کوم. (٤) خپلو خلقو ته دَ خپل پېغام په خپله رسولو څومره لویه جذبه په هغوي کښې موجوده وه.

په جلسو، جلوسونو او احتجاجي مظاهرو کښې به چې کله دَ حاکمانو له طرفه دَ وهلو حکم وشو نو په هغې ګڼه کښې به هغوي په خپله هم شامل وو. کله چې به دَ ګرفتارو لړۍ شروع شوه نو په ګرفتارېدونکو کښې به هغوي دَ ټولو نه مخکښې وو. دَ هغوي دَ درجې دَ یو مشر ګرفتاري او دَ قېد وختونه دومره تکلیف ورکونکي نهٔ وو. په هندوستان پربېږدئ تحریک کښې چې کله مردان سره نزدې په یوه احتجاجي مظاهره کښې ګرفتار شو نو دَ ګرفتارولو نه اول پرې تشدد وشو او ډېر زیات ژوبل شو او دوه پُښتۍ ئې ماتې شوې. (٥) هغه انسان چې ټولې دنیا له ئې دَ عدم تشدد درس ورکولو خپله دَ بدترین تشدد ښکار شو.

کله چې باچا خان په وړومبني ځل ګرفتار شو نو په هتکړو کښې جېل ته بوتللے شو او چې ترکومې قېد ؤ نو بېړۍ به ورته پرتې وې. دَ جېل حاکمانو سره دَ هغهٔ دَ ناپ بېړۍ نهٔ وې. کومې بېړۍ چې دَ هغهٔ دپاره مقرر شوې وې هغه تنګې وې او دَ هغوي پښې ئې ژوبلې کړې وې. کله چې هغوي ته دغه بېړۍ اچولې شوې نو دَ هغوي دَ پښو نه ډېره وینه بهېدلې وه. دوي ته ووئیلي شو چې ډېر زر به دې سره عادت شي. (٦) په کومه کوټهۍ کښې چې به هغوي ساتلي شو هغه سخته بدبُوداره وه. دَ اودس ماتي دپاره په هغې کښې یوه کنده کنستې شوې وه چې تر څوکو څوکو پورې دَ ګند نه ډکه وه. کله چې ئې دوي هلته بوتلل نو سمدستي بهر راووتو او پولیس والو ته ئې ووې چې دلته خو ډېره زیاته بدبوئي ده نو پولیس والو ټېله ورکړه او هغې ته ئې ورد ننه کړو. دَ هغوي دَ کوټهۍ به برابر نګراني کولې شوه چې څوک دَ بهر نه دَ باچا خان سره رابطه ونهٔ کړي. (٧)

د باچا خان دَ طرز عمل دَ دې مثالونو نه دَ هغوي پېروکارو ته دَ وطن په خاوره دَ سر ورکولو نه دَ ډډې نهٔ کولو یو مثال په لاس ورغے. دَ درویشتم اپرېل نولس سوه دېرشم واقعات دَ خدائي خدمتګارانو دَ خدماتو او قربانو یوه ښکاره ثبوت دے. دَ ((ینګ انډیا)) نه اخستې شوې یو اقتباس نه پته لګي چې په دې سپېرۀ او منحوسه ورځ دَ پښتنو سره کوم انسانیت سوز سلوک شوے ؤ:

" A troop of English soldiers reached the spot and without any warning to the crowd began firing into the crowd in which a number of women and children were present. When those in front fell down, those behind came forward with their breast bared and exposed themselves to the fire. Some people got as many as 21 bullet wounds. (Still) all the people stood their ground without getting into panic….. An old woman seeing her relatives and friends being wounded came forward (but) was shot and (she) fell wounded. An old man with a four years old child on his shoulder unable to brook this brutal slaughter advanced asking the soldier to fire at him. He was taken at his word and he too fell down wounded. The crowd kept standing at the spot facing the soldiers and was fired at from time to time until there was heaps of wounded and dying lying about. The Anglo-Indian paper of Lahore, which presents the official view itself wrote to the effect that the people came forward one after another to face the firing and when they fell wounded they were dragged back and others came forward to be shot at. This state of things continued from 11 to 5 'o clock in the evening. When the number of corpses became too many the Ambulance cars of the Government took them away." (8)

د پېرنګيانو سپايانو يوه ډله موقعې له راورسېده او بغېر دَ څهٔ خبرداري نه ئې په خلقو ګولۍ ورول شروع کړل چې پکښې ښځې او ماشومان هم شامل وو. وړومبني صفونه چې پرېوتل نو ورپسې چې کوم صف ؤ دَ هغو کسانو خپلې سينې مخامخ کړې او ګولۍ ئې وخوړې. ځنې ځنې کسان پکښې يويشت يويشت ډزه لګېدلي وو. دَ دې باوجود خلق په خپلو خپلو ځايونو ولاړ وو او هيڅ انتشار پکښې نهٔ ؤ پېدا شوے. يوې پخې ښځې چې خپل خپلوان زخميان وليدل نو رامخکښې شوه نو هغه ئې هم وويشته، هغه زخمي شوه او راپرېوته. يو مشر سړي چې په اوږه ئې دَ څلورو کالو ماشوم سور کړے ؤ دا بربريت او ظلم برداشت نهٔ کړے شو او نزدې ولاړ سپائي ته ئې ووې چې ما هم ووله نو دَ هغهٔ ارمان هم سمدستي پوره کړے شو. په مېدان کښې موجود خلق په ګولو لګېدل او سپايانو پرله پسې ګولۍ چلولې. تر دې چې هلته دَ ژوبلو خلقو يو انبار ولګېدو. دَ لاهور سرکاري ترجماني کونکي اينګلو انډين پرچې دا هم ليکلي وو چې خلق يو بل پسې ګولو ته مخامخ کېدل او چې يو تن به ولګېدو نو بل به ئې يوې ډډې ته راښکو او خپله به رامخکښې شو. دا صورت حال دَ سحر يولسو بجو نه تر ماښام پينځو بجو جاري ؤ. کله چې شهيدان ډېر زيات شو نو بيا ئې په سرکاري ايمبولنسونو کښې اوچت کړل.



اتلس کاله پس او دَ تقسيم په دوېم کال دا منظر په بابړه کښې سر دوباره شو. دَ دې تنظيم وفادارو پېروکارو دَ خپل مشر په ګرفتارۍ احتجاج کولو نو دوي سره هم هغسې

سلوک وکړے شو. دَ بابړې په دې مظاهره کښې ښځو قرآنونه په سرونو یا سینو سره جخت نیولي وو او پکښې شاملې شوې وې. (۹) خو په هغوي دَ ګولو چلولو حکم نوآبادیاتي حکمرانانو نۀ ؤ ورکړے بلکې دَ ازاد وطن نوي حکمران دَ خپلو نوابادیاتي حاکمانو په پل دَ پل کېښودلو نمونه پېش کوله. دوي په دې المناکه واقعه دَ پړدې اچولو پوره کوشش وکړو او نتیجه دا ده چې نن دَ بابړې واقعه دَ تاریخ په پاڼو کښې ورکه ده.

باچا خان او دَ هغۀ ملګرو دَ حریت او ازادۍ دپاره دَ هیڅ قسمه قربانۍ نه ځنګ نۀ ؤ کړے. خو المیه دا ده چې دَ هغوي دَ ټولو بې غرضه کوششونو او قربانو په بدل کښې هغوي دَ نور او زیات تشدد ښکار شو. دَ بابړې په مېدان کښې نوي حکمران چې کوم سلوک دَ دوي سره کړے ؤ دَ هغې نه ثابتېږي چې دَ تقسیم نه پس دَ خدائي خدمتګارانو ژوند نور هم سُور اور کړے شوے ؤ. دَ دې وجه ښکاره وه. دَ تقسیم نه اول دوي دَ کانګرس حلیفان وو او په نوي ریاست کښې دَ دوي دَ ټولو مخلصانه یقین دهانو باوجود دوي دَ ریاست وفادار تسلیم نۀ کړے شو.

د ازادۍ نه پس دَ Thrown To the Wolves مصنف ته په لیکلي یو خط کښې باچا خان لیکي:

"Considerations of personal harm have never weighted with me. What saddens me is that while we shrank from no sacrifice for the sake of India's independence, the Congress on attaining it forsook us. They gave themselves upto enjoyment while we were left to suffer alone We are still dubbed 'Hindus'. This was unbecoming of the Congress" (10)

زۀ دَ خپل ذاتي زیان غم هیچرې هم نۀ یم وړے خو کومه خبره چې ما خفه کوي هغه دا ده چې مونږ دَ هند دَ ازادۍ دپاره دَ یوې قربانۍ نه هم ډډه نۀ ده کړې او چې کانګرس ازادي بیاموندہ نو مونږ ئې هېر کړو. په خپله دوي دَ ازادۍ په خوږو ځان موړ کړو او مونږ ئې یوائې پرېښو اوس هم خلق مونږ ته هندوان وائي. دا هر څۀ کانګرس سره نۀ ښائیدل.

د خپلو خلقو بدحالۍ باچا خان په تریخ اظهار مجبور کړے ؤ. دا دَ یو داسې سړي الفاظ وو چې دَ چا په اواز به خلقو لبیک وئیل او خپل ځانونه به ئې قربانول. دَ دوي دَ قربانو تسلیمولو نه انکار کول پکار نۀ دي.

د باچا خان دا یو خصوصیت ؤ چې دَ خپلو نورو هم عصره مسلمانانو مشرانو برعکس ئې دَ یوې ښې او مړې کورنۍ سره تعلق لرلو او یو باعمله مومن کېدو باوجود دَ هغوي چال چلن نېک او شخصیت ئې دَ خودنمایۍ او تکبر نه بېخي مبرا ؤ. دَ هغوي دپاره مذهب دَ عقیدو پنډوکے نۀ ؤ چې دَ سیاسي مقصدونو دپاره ئې چې ځنګه وغواړي هغسې ئې استعمال کړي. هغوي دَ مذهب مطالعه کړې وه او دَ خپل ژوند دپاره سبق ئې دَ اسلام دَ وړومبني دور نه اخستے ؤ کله چې مسلمانان دَ مکې دَ مشرکانو دَ لاسه په سختو مشکلاتو کښې راګېر وو خو په جواب کښې هغوي چرې دَ تشدد لار نۀ وه اختیار کړې. باچا خان پوهېدو او خپلو پېروکارو ته ئې هم وئیل:

"There are two ways to national progress: one is the path of religion and the other is the road to patriotism. If we are on the road to ruin, it is because we have neither the true spirit of religion, nor the true spirit of patriotism, of love for our nation,

nor have we developed any social consciousness." (11)

د قومي ترقۍ دوه لارې دي يوه دَ مذهب او بله دَ وطن دوستۍ. مونږ کۀ نن دَ تباهۍ په لار روان يو نو دَ هغې وجه دا ده چې په مونږ کښې نۀ خو دَ اسلام اصل روح شته او نۀ په وطن مئين يو يعنې مونږ نۀ دَ قوم دپاره مينه وکړه او نۀ مو په ځان کښې دَ سماجي بېدارۍ پېدا کولو هڅه وکړه.

چرته چې غېر کانګرسي مشرانو براه راست يا بالواسطه مذهبي فرقه پرستۍ له زور ورکولو نو هغه وخت دَ باچا خان ټول کوششونه په دې خبره مرکوز وو چې په څۀ طريقه دا قوم دَ دې قابل کړے شي چې خپله هغه الٰهي وسله په لاس کښې واخلي کومه چې دوي دَ مودو مودو نه هېره کړې ده. دا وسله صبر ؤ. دَ عوامو دپاره دَ هغوي پېغام دا ؤ:

"I am going to give you such a weapon that the police and the army will not be able to stand against it. It is the weapon of the prophet (Peace be upon him), but you are not aware of it. That weapon is patience and righteousness. No power on earth can stand against it. When you go to your villages, tell your brethren that there is an army of God and its weapon is patience. Endure all hardships. If you exercise patience, victory will be yours." (12)

زۀ تاسو له يوه داسې وسله درکوم چې دَ هغې په وړاندې نۀ پوليس او نۀ فوځ ټينګېدے شي. دا دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم وسله ده خو تاسو خلق دَ دې نه ناخبره يئ. دا وسله صبر او تقوٰي ده. دَ دنيا يو طاقت هم دَ دې زور نۀ شي لرلے. تاسو چې کله خپلو کلو ته واپس لاړ شئ نو خپلو ورونو ته ضرور دا ووايئ چې دَ الله پاک يو فوځ دے او دَ هغوي وسله صبر او تحمل دے. ټول مصيبتونه او تکليفونه برداشت کړئ ځکه کۀ تاسو صبر کوئ نو يقيناً فتح به ستاسو وي.

دا هغه پېغام دے چې دَ دنيا ګټ ګټ ته ئې رسول پکار دي دَ ذمه وارۍ احساس لرونکي به ئې ضرور قبلوي.

## حوالې

1. د ټېګور افسانې کابلي واله کښې دَ پښتون کردار نوم رحمت او دَ کپلنګ ناول کښې دَ پښتون نوم محبوب علي ؤ.
2. پيارے لال، تهرون ټو دي وولوز، عبدالغفار خان، ايسټ لائټ بک هاؤس، کلکته، ۱۹٦٦ ص ۲۷



3. خان عبدالولي خان، باچا خان او خدائي خدمتګاري (تقسيم هند يا تقسيم مسلمان)، باچا خان سنټر ۲۰۰۹ ص ٥٦
4. خان عبدالولي خان، ص ص ۱۷۷-۱۷۸
5. فارغ بخاري، تحريک آزادي او باچا خان، فکشن هاؤس، لاهور ۱۹۹۹ ص ۱٥٦
6. خان عبدالغفار خان، زما ژوند او جدوجهد، کابل دولتي مطبع، کابل ۱۹۸۱، ص ۱٤٦

7. راج موهن ګاندهي، عبدالغفار خان، دي نان وائلنټ بادشاه آف دې پښتونز، پینګوئن بکس انډیا دهلي ۲۰۰٤ ص ٦٢
8. پیارے لال ص ٧٦
9. د تفصیل دپاره وګورئ سالار کریم داد، خدائي خدمتګار سالار کریم داد، ضیاء پرنټرز، پشاور، ۲۰۰٦ ص ۸۲-۸۸
10. پیارے لال ص ٧٦
11. ایس آر بخشي، عبدالغفار خان، دي فرنټئیر ګاندهي، انمول پبلي کېشنز، نئي دهلي، ۱۹۹۲، ص ص ۱۲۲-۱۲۳
12. ایکناتهـ، اے مېن ټو مېچ هز ماونټېنز، بادشاه خان، دي نان وائلنټ سولجر آف اسلام، نیلګري پریس کیلي فورنیا، بار دوم، ۱۹۸۵ ص.